شهسوارسنګروال ۲۰۲۲/۰۸/۰۶

ازاد خان غلجی له پارس نه...تر ارمنستانه

هغه مهال به چې په هند کې په افغان واکمنو سخته راغله او پوه به شول چې واک او ځواک ته یې کوم ګواښ پېښ دی .نو بیا به یې د پېښور، د سلیمان غرونو شاوخوا سیمو، روهستان ان د افغانستان د ختیځو سیمو نه را واخله تر لوی کندهار پورې په قومونو غږ وکړ، چې د جنګیالیو لښکر د هند لور ته را ولېږي.
همدا راز د شاه محمود هوتک د واک له مهال نه نیولې بیا د احمد شاه ابدالي تر واکمنۍ پورې، کله به چې په تهران، مشهد، نیشاپور، خراسان او د ایران په نورو سیمو کې په افغان واکمنو سخته ورځ راغله نو بیا به یې هرات، بادغېس، فراه، کندهار، زابل، غزني او د افغانستان نورو سیمو نه جنګیالي ځوانان را ټول کړل بیرغونه به یې پورته کړل او بیا به مخ په ایران وخوځېدل.
خو کله چې د شاه اشرف د واک په وروستیو کې د تهران او کندهار (دغه وخت شاه حسین د کندهار والي وه) تر مینځ اړیکې پرې شوې نو بیا د افغانانو واک او ځواک هم په ایران کې پای ته ورسېد.
ولې دا چې ازاد خان افغان پرته له دې چې د افغانستان له بېلابېلو سیمو نه افغان جنګیالي د خپل واک د پیاوړتیا لپاره را وغواړي،
بیا هم په یوازې ځان یې د یوه ځواکمن واکمن په توګه په اذربایجان، ګورجستان او ارمنستان کې واک چلوه، ښایي د تاریخ له لوستونکو او مینوالو سره دا پوښتنه پیدا شي چې د دې لامل څه وه چې یو افغان په یوازې ځان د دې جوګه شو چې په یادو سیمو کې حکومت وکړي؟
ښایي چې ډېر لاملونه وي ولې کوم څه چې ډېر مهم دي په لنډیز سره ویلی شو:
لومړی دا چې په سیمه کې د هند له نیمې وچې نه را واخله تر افغانستان، ایران او مینځنۍ اسیا هېوادونو پورې ځنې داسې سیاسي او ټولنیزې پېښې مینځته راغلې، چې افغان واکمنو ته یې د واک زمینه برابره کړه.
دویم، د اورنګ زېب مړینه (۱۷۰۷ ز کال) او د ده له واک نه وروسته د ګورګانیانو د ټولواکمنۍ ځوړتیا، په کندهار کې د میرویس نیکه ملي پاڅون او د صفوي شاه حسین د واک په مهال په ایران کې بېواکي او بېباکي.
ازادخان په همدغسې مهال سیاسي او نظامي ډګر ته را ووت او له غزني نه تر ایرانه پورې ورسېد.

دا چې څرنګه ورسېد غوره به وي چې ازاد خان افغان وپېژنو:

د ازاد خان لنډه پېژندنه

ازاد خان افغان په ۱۷۰۵ ز کال د سلیمان په کاله کې زېږېدلی دی. سلیمان د غزني له نامتو خانانو څخه ګڼل کېده. د قومي روایتونو له مخې په لویه پښه کې غلځی په قوم سلیمانخېل دي .
سلیمان خان د خپل زوی ازاد خان روزنې ته ځانګړې پاملرننه درلوده، دودیزې زده کړې یې پرې وکړې د فقې او نظم کتابونه یې هم پرې ولوستل، نو ځکه یې له شعر او ادب سره هم ډېره مینه درلوده.
ازاد خان لا تنکی ځوان وه چې ګلستان، بوستان، پنج کتاب، رحمان بابا دېوان، مراسلات، انشاء کریم، خلاصه، قدوري، کنز او نور کتابونه لوستلي ول.
هغه مهال به د کور کلي ځوانانو دودیزې لوبې هم کولې لکه هینده، خوسی، پهلواني او نورې د بېلګې په توګه یادولی شو، خو ازاد خان د اس ځغلولو له لوبې سره ډېره مینه درلوده، په مېلو او ملي ورځو جشنونو او اخترونو کې د «نیزه وهلو» غونډې او بنډارونه جوړول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ازاد خان په داسې مهال شهرت ته ورسېد چې په ټول افغانستان کې سیمه ییزې واکمنۍ او خانۍ ټینګې وې. له میرویس نیکه نه د مخه کړاوونه یو ځل بیا له شاه اشرف هوتک نه وروسته د هغه مهال تېرې غمیزې او ستونزې بیا را غبرګې شوې او نادر افشار دېته مټې را بډ وهلې چې په ایران کې د افغانانو واک ته د پای ټکی کېږدي.
یو شمېر تاریخپوهان انګېري چې ازاد خان د نادر افشار قومندان وه او یو شمېر نور بیا په دې اند دي چې دی د سیدال خان ناصر ملګری وه او د همدې اړیکې له مخې شاه حسین هوتک ته د نادر افشار په وړاندې له غزني څخه څو واري جنګیالي مرستې ته ورلېږلي ول.
که څه هم د تاریخ په دغه پړاو کې دېر ځله زاړه وحدتونه مات شوي دي او نوي مینځته راغلي دي. هر واکمن کوښښ کاوه چې خپل ځواک پیاوړی کړي. نو د دې شونتیا څوک نشي ردولی لکه د «خورشید جهان» په قول:
«ازاد خان یو مېړنی جنګیالی وه. نوموړی له کریم خان زند سره دښمن وه خو وروسته یې په جګړو کې له کریم خان زند سره دوستي وکړه.»([1])
شېرمحمد ګنداپور چې پخپله ایران ته تللی وه نو د ازاد خان د واک په ترڅ کې د یو شمېر پښتنو تېرونو په اړه هم معلومات را ټول کړي دي او کاږي:
«نپوهېږم بنګښ پښتانه څه ډول ایران ته تللي دي»([2])
لکه څنګه چې پښتانه د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې هند ته تللي دي دا رنګه ایران ته هم. ان له لرغوني تاریخ نه را واخله تر ازاد خان افغان پورې تللي دي.

دا چې نوموړي د ایران په یو شمېر سیمو واک چلولی او پاچاهي کړې ده، نو هرومرو د ده په لښکر کې افغان او کردي جنګیالي او په ټوله کې ګڼ شمېر سوني مسلمانان موجود وه، ځکه چې د ایران واکمنو له دې مهاله د مخه او وروسته په سني مسلمانانو ډېر ظلمونه کړي ول.
ازاد خان لومړی په سیمه ییزې کچې د غزني په شاوخوا سیمو کې د یوه غرغره یې ځوان په توګه سر را پورته کړ او بیا یې له سید الخان سره اړیکې ټینګې شوې.
د یوې ناري له مخې داسې برېښي چې دوی دواړه دومره نږدې ول، چې ښایي په ډېرو جنګونو کې به د دښمن په وړاندې یو ځای جنګېدلي وي. ولې کله چې سیدال خان ناصر په یوې جګړې کې ګوښې ښکېل شوی دی، نو د ناري له مخې داسې ښکاري چې ازاد خان ورسره نه و:

سیدال خان ویل سو لښکري بزي بزي
ازاد خان مې توري شپې وخوړ که ورځې

بل ځای بیا داسې وایي:

ازاد خان سلیمانخېل بیا منګولي سري کړې
په مینځ میدان ور ګډ سو مراد علي غاړې بېخ ته ورته پرې کړې

تر هغې چې سیدال خان ناصر د نادر افشار په وړاندې جنګېده ازاد خان هم د افشاریانو سره جنګېدلی دی. ولې کله چې سیدال د نادر لخوا ړوند شو، په دغه وخت کې ازاد خان غزني ته راغلی وه، چې د شاه حسین هوتک په ملاتړ یو شمېر جنګیالي د کندهار د ژغورلو لپاره تیار کړي، ولې له بده مرغه چې افغانان په ځانګړي ډول غلجي او ابدالیان په ناندریو او خپل مینځي ناخوالو کې ښکېل ول، نو ځکه شاه حسین هوتک ماته وخوړه او د یوه برېتانوي تاریخپوه هنري جوج راورټي Henry George Reverty په اند: «که چېرې دغو دواړو تېرونو (غلجیانو او ابدالیانو) سره لاس یو کړی وی پرته له شکه به د دې جګړو پایلې بل ډول وې.»([3])

نادر افشار او ازاد خان افغان

نادر افشار لس (۱۰) میاشتې د کندهار ښار کلابند کړ او شاه حسین هوتک تر هغې تسلیم نشو، تر هغې چې د کلا ټول برجونه د نادر افشار د درنې توپ خانې له بابته نه وو غورځېدلي. «کله چې پاچا نهیلی شو نو خور یې بي بي زینبه (یو وخت نادر افشار غوښتې وه خو نکاح یې ورسره ونکړه) ورغله او نادر ته یې د سولې وړاندیز وکړ.... هغه بیا شاحسین او کورنۍ یې مازنداران ته ولېږل.
په تاریخ سلطاني کې راغلي دي چې په ۱۷۳۹ ز کال ومړ او میر عبدالکریم بخاري ویلي دي چې ووژل شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې نادر افشار واک (۱۷۳۶ ز کال) ته ورسېد، په دې پوه شوی وه چې چې د خپل واک د ژغورلو او غځولو لپاره اړینه ده چې د پښتنو له ځواک نه ګټه واخلي. نو همدا لامل وه چې نوموړی له کندهار نه کابل ته په لاره د غزني په شاوخوا کې ازاد خان ته وړاندیز وکړ چې له ده سره سوله وکړي.
نادر افشار چې د غلجیانو واک را نسکور کړی وه. ده نه یوازې ابدالیان (په سر کې احمد خان ابدالي) د ځان پلوي کړل بلکې غلجیان یې هم پخپل پوځ کې ونیول چې موږ ازاد خان غلجی او نور محمد خان غلجی د بېلګې په توګه یادولی شو.
ازاد خان د سولې له تړون نه وروسته د کابل په نیولو کې (۱۷۳۷ ز – ۱۱۵۰ سپوږمیز) له نادر سره ډېره مرسته وکړه او په ۱۷۴۱ ز کال له نوموړي سره یو ځای ایران ته راغی.
نادر افشار د بغداد د نیولو په مهال د ازاد خان له جنګیالیو نه ډېره ګټه واخسته. د کوفې او د شېراز په نیولو کې هم د ده ونډه د پام وړ وه.
ازاد خان افغان بیا د نادر افشار لخوا د اذربایجان سیمې ته واستول شو. هلته نه یوازې پوځي جنرال وه بلکې د نادر افشار د ترور زوی «اسلان خان» مرستیال هم وه.
ازاد خان د ګرجستان د نیولو لپاره هم یوه شتله جګړه وکړه، خو بیا یې د هغه ځای له واکمن سره روغه وکړه او «ارس» د دواړو سیمو ګډه پوله وګڼل شوه.
ګندا سنګ هم د دې خبرې پخلی کړی دی چې د نادر افشار قومندان ازاد خان د اذربایجان پارسي ولایت تر خپل واک لاندې را وستی وه.
ګندا سنګ دا خبره هم کوي چې د ازاد خان خیالات ډېر اوچت وه، ده غوښتل چې ایران. افغانستان او هندوستان یو هېواد کړي.
ښایي د نادر افشار د ژوند په وروستیو کې به ازاد خان دومره واک او ځواک په اذربایجان کې خپل کړی وه، چې سکه پخپل نوم ووهي او ان تر دې چې له نادر افشار سره هم په جګړه کې ښکېل شو.
د نادر افشار له مړینې وروسته «ایران یو ځل بیا له ستونزو سره لاس او ګرېوان شو. د خزر شاوخوا سیمې د محمد حسین قاجار،ګرجستان د «هراکیلوس»، اصفهان د ابوالفتح او علیمردان، د ایران سهل د کریم خان زند او اذر بایجان د نامتو افغان ازاد خان په واک کې و.»([4])
وروسته د ایران په پلازمېنې، د واک په سر د علیمردان بختیار او کریم خان زند تر مینځ اختلاف را مینځته شو. ولې بختیاري په ناڅاپي توګه ومړ او د واک په سردرې تنه هر یو ازاد خان افغان، محمد حسن قاجار او کریم خان زند د جګړې ډګرته را ووتل.
د دغو سیالانو تر مینځ څو وارې خونړۍ جګړې پېښې شوې. ولې پوښتنه دا ده چې محمد حسن قاجار او کریم خان زند خو د ایران اصلي اوسېدونکي ول، دوی کولی شول چې نور نوي ایراني جنګیالي پخپلو لیکو کې ودروي .خو ازاد خان افغان څرنګه کولی شول چې خپلې لیکې پیاوړې کړي؟
حال دا چې د افغانستان واک تر مشهد او نیشاپور پورې د احمد شاه ابدالي په لاس کې وو.
« ازاد خان اوه کاله په پرلپسې وجنګېده او په پای کې له کریم زند سره روغه وکړه او د ژوند تر پایه د هغه په دربار کې د میلمه په توګه پاتې شو.»([5])

په ایران کې، د واک په سر د ازاد خان هلې ځلې

د نادر افشار له مړینې وروسته ازاد خان افغان د اذربایجان شاوخوا سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او په دې هڅه کې شو، چې د خپل واک او ځواک د لا پراختیا او پرمختیا لپاره بډې را ووهي:

۱- لومړی یې په ۱۷۴۷ ز کال د جولای په میاشت کې د اذربایجان د لا ټینګښت او پایښت لپاره یوه پیاوړې ځواک ته دنده وسپارله چې د پلازمېنې په توګه اذربایجان وساتي.

۲- ازاد خان په ۱۷۵۰ کال نقي خان د اذربایجان د بېګلربېګي په توګه وټاکه او پخپله یې د ځواکونو د پیاوړتیا لپاره ازبکان، افشاریان، کردان او په ټوله کې د سیمې بېلابېل قومونه او په ځانګړې ډول هغه وګړي چې له نورو واکمنو په تنګ راغلي ول په ځان را ټول کړل.

۳-ازاد خان هغه افغان جنګیالي وو، چې له نورو مشرانو لکه محمد حسن خان قاجار، کریم خان زند او نورو سیمه ییزو واکمنو سره ول او د هغو لپاره جنګېدل، را وغوښتل او د ځان ملګري کړل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو شمېر افغان وګړي چې د ایران مشرانو د تعصب له مخې ووژل، یو شمېر نور له وېرې نه دې ته اړ شول چې ازاد خان ته پناه راوړي.
یو وخت داسې راغی چې بېوځله افغانان د کریم خان زند لخوا چې دی لا د نورو ایراني مشرانو په پرتله زړه خوږی انسان وه، د نوي کال (نوروز) په نمانځنه کې د نهو (۹) زرو په شاوخوا کې چې ښځې او ماشومان هم پکې ول ووژل شو.
«کریم خان ګڼ شمېر افغانان په دې نوم چې دویته د نوروز د جشن په ویاړ ډالۍ او انعامونه ورکوي تهران ته را وغوښتل. بیا یې خپلو پوځونو ته د هغوی د وژلو امر وکړ.»([6])

۴- ازاد خان په ۱۷۵۱ ز کال په ارمنستان برید وکړ، ګورجي واکمن «تېمورس» د خپل زوی «هراکلیوس» په مشری یو پوځ ور واستوو. کوم افغانان چې د هراکلیوس په پوځ کې وه و نه غوښتل چې له ازاد خان افغان سره وجنګېږي نو ځکه د دواړو غاړو تر مینځ سوله وشوه.
ازاد خان د اوښیاری له مخې یو شمېر سیمه ییزه واکمن د ځان پلوي کړل چې موږ د کرمان میرزا تقي خان، عبدالعلي خان، فتح علي خان ارشلوی افشار، شهباز خان، د اورمیې والي موسی خان (چې بیا یې خپله لور قز آغا هم ورته په نکاح کړه) او په لسګونو لوی او واړه سیمه ییزه واکمن یادولی شو.

۵- کله چې ازاد خان د اورمیې والي د ځان ملګری کړ نو بیا یې په تبریز کې یو پیاوړی لښکر سمبال کړ او په ګرجستان یې برید وکړ. هراکلیوس نه یوازې تسلیم شو بلکې خپله خور یې هم ازاد خان ته په نکاح کړه.

۶- په ۱۷۵۲ ز کال د ازربایجان شاوخوا سیمې هم تر ولکې لاندې را وستې او د یوه پیاوړي ځواک څښتن شو. په ۱۷۵۳ ز کال یې وغوښتل چې خپل واک لا پراخ کړي هغه وه چې د کریم خان زند تر واک لاندې سیمې وګواښلې او له اذربایجان نه درې (۳۰۰) میله لرې ځمکې تر برید لاندې ونیولې او دا هغه مهال دی چې د کریم خان زند او علیمردان د ځواکونو تر مینځ جګړه روانه وه.
که څه هم په دغه برید کې ازاد خان بریالی نشو خو له اذربایجان پرته یې ارمنستان هم په واک کې راوست چې خلیل خان افغان یې بیا د هغې سیمې والي وټاکه.

۷- ازاد خان په ۱۷۵۳ ز کال له یوه پوځ سره له اذربایجان نه د پارس په لور وخوځېد او د علیمردان بختیاري هغه وړاندیزیې ومانه چې له ده څخه یې د کریم خان زند په وړاندې پوځې مرسته غوښتې وه.
ازاد خان افغان له اته زره کسیز پوځ سره له کردستان نه کرمانشاه ته په لار خبر شو چې علیمردان ماته وخوړه او کریم خان زند بیا له ازاد خان سره جګړه پیل کړه. ازاد خان پدې جګړه کې ځکه برې وموند چې د زند دوه سردارانو شیخ علي او محمد خان له جګړې نه ځانونه ګوښه کړل.

۸- که څه هم کریم خان اصفهان ته وتښتېد، ولې د ازاد خان جنګیالي بیا هم ور پسې ول، هغه چې د جګړې وس نه درلود نو مخ په شېراز وتښتېد.

ازاد خان چې اصفهان ونیو نو ځان یې پاچا کړ او بیا یې د پاچاهۍ له اعلان وروسته سکه هم پخپل نوم ووهله.

تاکه ازاد خان در جهان باشد سکه صاحب الزمــان باشــد

د اصفهان وګړي چې د زند له ظلمونو په تنګ راغلي ول، د ازاد خان پوځ او سردارانو ته یې هرکلی ووایه او دی د ځانګړو مراسمو له مخې د اصفهان په تخت کېناست.
ازاد خان افغان خو په ۱۷۵۳ ز کال د پارسیانو په پلاز اصفهان کې د پاچاهۍ تاج په سر کړ، خو بیا هم ایران مېشتو سیمه ییزو واکمنو د نوموړي په وړاندې یوه ټلواله جوړه کړه.
کریم زند په ۱۷۵۴ ز کال په دې پوه شو چې شېراز ته کوم ګواښ پېښېدونکی دی. نو وېپټېله چې کرمان لاندې کړي.
ولې چا ورته خبر راووړ چې ازاد خان کاشان ته په لاره دی نو ده خپل لوری بدل کړ چې اصفهان ونیسي.
د ازاد خان پوځې ګارډ چې شمېر یې د درې (۳۰۰) سوه تنه په شاوخوا کې وه د دې وس نه درلود چې د کریم خان زند په وړاندې ودرېږي نو هغه ته یې پناه یووړه.
هغه وه چې په ۱۷۵۵ ز کال د ډسمبر په ۱۷ نېټه اصفهان پرته له ډزو ډوزه د زند په ولکه کې پرېووت.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ازاد خان له یوې خوا د محمد حسن قاجار له ګواښ سره په تهران کې مخ وه او له بلې خوا یې اصفهان له لاسه ورکړ. ولې لکه څنګه چې کریم خان په اسانۍ سره اصفهان ونیو دا رنګه یې یو کال وروسته (۱۷۵۴ ز کال) په اسانۍ سره له لاسه ورکړ او محمد حسن خان قاجار لاندې کړ.
ازاد خان نه یوازې اصفهان بېرته لاندې کړ بلکې د هېواد شمالي سیمې یې هم لاندې کړې. خو دا هر څه لنډمهاله وو، ځکه چې ازاد خان افغان له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان شو. د ساري په توګه کله چې د ده د دفاع وزیر فتح علي خان افشار د ده دښمن محمد حسن خان قاجار ته ور واووښت، نو دی یې ډېر بې واکه کړ.
ازاد خان افغان، کریم خان زند او محمد حسن خان قاجار یو بل سره څو څو ځله په جګړو کې ښکېل شول خو وروستی برى د هېچا په برخه نشو، ان د ازاد خان په برخه هم نشو. ولې د ژوند په وروستیو کې د کریم خان زند سره سوله وکړه او دا لا څه چې دوی دواړه همځولي هم ول .
خو د «جان پیري» د لیکنې له مخې ازاد خان د کریم خان زند له مړینې دوه کاله وروسته په ۱۷۸۱ د ۷۶ کالو په عمر ومړ.
ازاد خان په پښتو ژبو رواني خبرې کولی شوی لکه پښتو، پارسي، کردي، ازبکي... دی نه یوازې یو جنګیالی واکمن وه بلکې یو اوښیار،سوله خوښوونکی او د انصاف ځښتن هم وه، ده د خپلې واکمنۍ په مهال یو شمېر ټولنیز فرمانونه هم د خلکو له غوښتنې سره سم خپاره کړل چې د خلکو له تاوده هرکلي سره مخامخ شول.
د ده له مړینې وروسته کورنۍ یې په لغمان کې مېشته شوه. ولې نده څرګنده چې چېرته؟

- [1]ګنداپور شېرمحمدخان خورشید جهان ۲۱۷ مخ.

- [2]همدغه اثر ۳۱۲ مخ.

[3] - Reverty George Travel to Afghanistan.P.610

- [4]غبار مير غلام محمد افغانستان در مسير تاريخ ۳۵۳ مخ.

[5] - Sir Percy Sukas Persia vo 12.P. 277 - 279

- [6]د همدان نوم ورکې لیکوال اثر مجمع التواریخ ۳۲۲ – ۳۲۳ مخونه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ